کاندید اکادمیسین سیستانی ۲۰۱۴/ ۱۰/ ۱۲

# د ډاکترنبی مصداق پرکتاب
# (افغانستان،سیاسی کمزوری او بهرنۍ مداخله)
# باندی یوه څلنده نظر

په دی ورستیوکی د افغانستان نامتو ژورنالست اونوښتگر لیکوال ښاغلی ډاکتر نبی مصداق له خوا ، یو په زړه پوری سیاسی تحقیقی- تحلیلی کتاب د**"افغانستان،سیاسی کمزوری او بهرنۍ مداخله"** تر عنوان لاندی له چاپه راوتلی دی . ددې کتاب گران مؤلف یو تکړه ماته څومیاشتی دمخه د مطالعې اولوستلو دپاره راالیږلی وو، خو متاسفانه زه د خپلی دفرهنگی د بوختیا په خاطرونکړای شول چی تر دی دمخه دا کتاب وگورم او یوڅه ورباندی ولیکم . زه دلته دمؤلف له دې پیرزوینی څخه مننه کوم او دکتاب دخپریدو لامله ورته مبارکی وایم .

کتاب په (۶۳۰) مخونوکې (۸ مخونه دمطالبوفهرست، ۱۵مخونه دمنابعو فهرست،۶صفحی نقشی اوجدولونه،۲صفحی دپروفیسوررالف گریلو،ډکترفاروق اعظم او ډاکتر اکبر ایس.احمدبن خلدون، دامریکی دپوهنتون داسلامی څیړنو رییس کوچنۍ تذکرات ) په ښه قطع او صحافت،په کندهارکی دعلامه رښادخپرندویه ټولنې لخوا په دوه زره توکه په ۲۰۱۱میلادی کال کې چاپ سوی دی.

دکتاب په کتلو معلومیږی چی، دا کتاب په اصل کی په انگریزی ژبه لیکل سوی دی، خو د افغانانو دنوی نسل د ضرورت پراساس،دکندهار پیژندل سوی لیکوال او مترجم ښاغلی داکتر نثار احمدصمد لخوا په روانه او خوږه کندهاری پښتو باندی ژباړه او چاپ سوی دی.

زه ښاغلی ډاکترمصداق له نږدې څخه نه پیژنم، خو تر هغه ځایه چی د ده د نوم اونطاقی سره بلد یم، دی دهغه وخت راهیسی چی شوروی اتحاد پرافغانستان باندی تیری وکړ، د ده نوم او ږغ د بی بی سی د رادیوله لاری ټولو افغانانوته یو آشنا نوم دی او په ۱۹۸۰او ۱۹۹۰ لسیزو کی هره شپه موږ ،او دافغانستان خلگ د ده دخولې څخه خبرونه اوسیاسی تبصرې اوریدل او دخپل چاپیریال د وضعی څځه خبریدل. ښاغلی مصداق څه کم ۲۰ کاله د بی بی سی نطاق،خبریال ،تهیه کونکی او دبی بی سی د پښتوسرویس مسؤول په توگه کار وکړ. ښاغلی نبی مصدق خپل عالی تحصیلات تر ډاکتری پوری په انگلستان کی مخ ته بیولی دی. دی په ۲۰۰۱ کی د انگلستان څخه امریکی ته تللی او تر اوسه په امریکا کی ژوند کوی. ده په امریکا کی خپل دغه گټور او مهم کتاب لیکلی او خپورکړی دی . البته چی ښاغلی داکترمصداق نورکارونه هم د پښتو او پښتنو دپاره کړی یا ئی تر لاس لاندی لری، لکه: دپښتو - انگریزی ډیکشنیری چی څوکاله کیږی چی ورباندی کار کوی.

پروفیسوررالف گریلو،دسیسیکس پوهنتون داجتماعی انسانی پوهنځی متقاعد پروفیسور د ده په هکله داسی وایی: «**نبی مصداق څواړخیزه مهارتونه لری: دیوبشرپیژندونکی په حیث ده دمعاصره افغانی ټولنه څیړلې او بیا یې دیو ژورنالست په توگه دبی بی سی په خارجی سرویس کی دیرکلونه کارکړۍ چی په دی وظیفه کی یی د افغانستان د اکثریت سروالو سیاست پوهانو سره کتلی او مرکی کړې دی. ده د دغو لیاقتونو سره د افغانی تاریخ څخه دخپلی ژوری پوهی له گډولو څځه داسی جذابه څیرنه رامنځ ته کړی، چی هغه اساسی ستونزی را بهر کوی، چی گڼ افغانی واکمنان د یو مشروع او مرکزی افغان دولت د ایجاد په خاطر ورسره مخامخ ول، یعنی هغه مشکلات چی نبی مصداق هم ښودلی، حتی دافغانستان د ننۍ ورځی مشران هم ورسره لاس او گریوان دی.**»

هو، دپروفیسوررالف گریلو،پورتنی خبری د ډاکترنبی مصداق په هکله ښه مصداق او سند گڼلای سو. د ده کتاب(افغانستان)، د دونیمو پیړیو په موده کی دافغانستان دټولنیز- سیاسی مشکلات ،بهرنی مداخلی او دافغانانو د استقلال غوښتنی تلاښونو را برسیره کوی.

دا کتاب دافغانستان دمرکزی حکومت او قومونو ترمینځ روابط ، پخلاینې اواجتماعی او سیاسی ټکرونه توضیح کوی. قومونه دافغانستان داوسنی دولت بنسټیزه تهداو جوړ وی ،ځکه نو دا دحیرانتیا ځای نه دی، چی د قومونو او دولت تر مینځ چی لومړی غواړی خپل محلی او ځانی استقلال وساتی، او دوهم بیا دهغه تابعیت اواطاعت غواړی، پرله پسی ښورښتونه او بغاوتونه وینو. لیکوال همدا راز د تیرو دو نیمو پیړیو پرمهال دبهرنیو تیریو او تجاوزونو


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

منفی اثرات هم ځیرلی دی. داکتاب د هغوکسانو لپاره ډیر ضروری دی چی د افغانستان، دمنځنی ختیځ دسیاست او تاریخ د ځیرنو سره مینه لری، او هم دهرچا د لوستني لپاره چی غواړی د دې ستراتیژیکی موقعیت لرونکی هیواد په ارتباط نورهم پوه شی،اړین دی.

داکټر مصداق، د دی کتاب دلیکلو دپاره ډیر زیارایستلی او ډیرماخذونه لیدلی او ډیری مصاحبي دافغانی سیاستوالو سره یی ترسره کړی دی.دی خپل هدف د دی کتاب له لیکلوڅخه داسی بیانوی : «**د دی کتاب دلیکني څخه ما دوه هدفه درلودل: لمړی، دا چی دافغانستان واقعیتونه په ټوله امانت داری د انتروپولوجي(بشرشناسی)، سوسیالوجی(ټولنپیژندنی) او سیاسی تاریخ دعصری تیوریو او ځیرنو په رڼا کی وڅیړم. دوهم داچی زموږ لیکوالانو لپاره د کتاب د لیکلو په اوصولو کی خدمت مصدر وګرځم. نن د کتاب لیکل د یوه خاص قوم او ژبی لپاره نه دی او کیدای شی چی دهغه کتاب نورو ژبو ترجمه شی. نو هغه کتاب چی په اکاډمیکو اصولو نه وی لیکل شوی، جدی نه تلقی کیږی او نورو استفادی ته به ونه رسیږی.**

داکټرمصداق زیاتوی چی : زه له هیڅ قوم او ډلی سره شخصی عداوت او کوم مشکل نه لرم. هر لیکوال باید ټولنیز واقعیتونه په نظرکی ونیسی او په امانت داری سره هغه وڅیری که څه هم د واقعیت ویل به د ځینو نه خوښیږی، خو واقعیتونه په لنډه موده کی را برسیره کیدونکی دي. ما خپل تحصیلات په انګلستان کی بشپړکړی دی او دمحصلینو تنده راته معلومه ده. ځکه می هم دکتاب عنوانونه داسی ترتیب کړی چی په آسانی سره دیوی موضوع ټولی برخی پکی ذکرشوی دی. ممکن دهمدی له امله د کتاب انګلیسی ټوک د زرو نه ډیرو پوهنتونو او علمی مرکزونو په انګلستان او امریکا کی چی دا کتاب پکی چاپ شوی، اخیستی وی.»(۲۵مخ)

داکترمصداق خپل کتاب ،**هغو وطنوالو ته ډالی کوی چی د ګران افغانستان دآزادی او خپلواکی لپاره، له خپل خواړه ژوند نه تیرشوی دي.**(ص ۶مخ)

دکتاب مترجم ښاغلی داکټر نثاراحمدصمد، دا کتاب یو آفاقی (جهانی)اثر بللی او لیکی چی: دا کتاب دافغانستان تاریخ، سیاسی پرمختیاوو، اساسی نیمګړتیاوو، بهرنیو مداخلو او بالاخره افغان مقاومت عینی لوستنه ځیری،په ډیره عالمانه توګه تحلیل او شنل سوی دي. ښاغلی داکټرمصداق لوستونکو ته هغه افغانستان په مخ کی ایږ دی لکه څنګه چی دی . که د کتاب بیلابیل فصلونه په غور ولولو،نو به وګورو چی لوستنه یی د درو خورا عمده مقاصدو لپاره اړینه او لازمی ده یعنی:

الف/ دافغانستان اوسیمی په ارتباط د تحقیق په خاطر،

ب / دافغانستان د هر اړخیز را پیژندلو په خاطر،

ج / په علمی او اکادمیکو مرکزونو کی دافغانستان دستراتیژیکی دریځ اهمیت ښودلوپه خاطر.

ښاغلی لیکوال(افغانستان) او دهغه سیاسی کمزوری او بهرنی لاسوهني دخوږو او ترخو حقایقو په ځیرلو سره نړیوالو او افغانانو ته د یو اکادمیک او آفاقی مآخذ په توګه لورولی دی.(۲۷مخ)

باید ورزیات کړم چی د دی کتاب دلوستلو څخه په ډاګه کیږی چی ښاغلی لیکوال، دموضوعاتو د تشریح کولو په وخت کی دقومی تعصباتو او ژبنی تبعیضاتو څخه ځان لیری ساتلی دی. او دا کار د ښاغلی لیکوال او د دی کتاب یو لوی امتیاز دی چی د مختلفو اقوامو د تشخیص اوداجتماعی موقف په روښانه کولو کی خپله بیطرفی ساتلی ده. په دی دلیل سړی ویلی شی چی دا کتاب دهر ډول تعصب او تبعیض څخه پاک دی.له دی کبله زه ښاغلی لیکوال ډاکټرصاحب مصداق ته کور ودانی اومبارکی وایم .

کتاب له څو یادښتونو او پیلامی څخه وروسته، د یوه مفصلی سریزی سره شروع کیږی او پدی سریزه کی دپښتنو ټولی قبیلوی خصوصیات ، دود او دستور تشریح سوی دی. خوپه همدی سریزه کی ښاغلی لیکوال دالفنستن پرکتاب(دکابل سلطنت بیان) باندی چی په هغه کی دافغانی دود اودستور(پښتونولئ) اوجامعه شناسی ترډیره حده ځیرل شوی دی، نیوکه کوی او لیکی چی :دالفنستن(کابول= کابل) څولسیزی دپوهانو لپاره ترټولو منلی او تر ټولو زیات دلوستلو وړ کتاب پیژندل سوی دی.اولاف کیرو، چی سرحدکي دبرتانیی سیاسی نماینده په حیث ښه ډیرکلونه د پښتنو په منځ کی تیرکړی دی. د(کابول سلطنت = کابل سلطنت) نومی کتاب داسی ارزوي:

«هغه دسرحد دڅیری اوکړه وړه یوجامع ترین اوتر ټولو خاخوږی او قدرکونکی دی. دغه سړی هرسیمه سمه او هره قبیله پخپل سم ځای کی ښودلي ، ده خپله ځرګندونه په صحیح اوقناعات بخش ډول سره ښودلی ده ...پاچا، مخور،سوداګر یا کسب ګر،ملا یا کروندګر ټول ده ته هغسی کسان دي،چی دستاینی وړ دی. دا چی دهغوی غلطی په خندا سره د معافی اومینی وړ بولی».(۵۷مخ)

وروسته مؤلف زیاتوی: « زماپه نظردالفنستن کتاب دهرزمان دهغو ناکراریو په باره کی مفصل تشریحات نه لری،چی عادی خلکو ویلی او ترننه هم دهغوی په یاد دي، او په هغه باره کی خبری کوی،لکه : دصفوی پارسیانو



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

رانسکورول،دغلجیانو دواک اختتام، د درانی سلطنت او واکمنی پیل او بالاخره د۱۷۰۹ او ۱۷۴۷ کلونو دکلیدی لویوجرگو په هکله مفصلی مباحثی. خوکه بیا هم د درانیانو په وړاندی دغلجیانو او یا هم برعکس کومه ذره غبرگون موجود وي،نوما هغه ضرور اقتباس کړی دئ. هغه دخپل دوهم کتاب په اووم فصل کی د نورو قبیلوی ډلو په هکله هم بیان لری،خو د ده اصلی هدف دا وو، چی دپښتنو یومشرح راپور تهیه کړی.»( هغه مخ)

لیکوال دخپلی مقدمی په ترڅ کی یوبل خورا مهم کتاب ، خپلو لوستونکوته معرفی کوی او هغه «**دسواتې پټان**»کتاب دی.چی فریدریک بارت په ۱۹۵۹ کی لیکلی دئ. دغه اثر د خانانو او ملایانو دسیالو خواوو په سیستم کی دقدرت د زیاتیدونکی لوبی په ذریعه دسوات غوندی یوی پښتني ټولنی دتشریح لپاره یوطرز العمل منځته راوړی دئ. دخانانو څخه دننگي اساس همغه قبایلی پله ور(پیروان) او کروونده گر دي او ملایان هم دخپلو مذهبی،قبایلی او قبایلی پیروانو ملا تړ ورسره لری. لیکوال لیکی چی: دسواتې په هکله دبارت قضاوت د ده پخپل هیواد ناروی کی د ده له خیرنی اغیزمن کیږی،چی هلته دی نوموړی جامعه دهغی دمخکښو دفعالیتونو په واسطه تشریح کوی. بارت په سواتې کی څه کم یوکال تیرکړی او د ده(دسواتې پټان)څیرنه تر ډیره حده د نورو بشرپیژندونکو لکه اکبر احمد،طلال اسد او براین ستریټ له خوا توضیح سوی ده.» (۶۱مخ)

مؤلف د قبیلی او د دولت روابط داسی توضیح کوی:«قبیله پر وینهُ کلتور او نسبت کړه سوو عواملو باندی زور اچوی، حال داچی دولت بیاغیر شخصی دی او قرارداد پرمخ بیونه، اولاسته راوړني پیژنی.قبایلی نمونه دټولنیز پلوه غیرمتجانسه، متساوی الحقوقه او بیله بیله وي، خو دولت بیا غیرمتجانس، متساوی الحقوق او دمراتبو سلسله وی. قبیله د فرد په اصل و نسب کي وی خو دولت بیا له ده څخه بهر وي.»(۶۶مخ)

مؤلف د "راب هیگر" له قوله لیکی چی :« د قبیلی اودولت څخه ماسوا د قبیلی او امپراتوری ترمنځ اړیکی پرضد او نقیض قیاسونو باندی ولاړ دي. امپراتوری د قبایلی مشرتابه دستگاه په واسطه دقبایلو یووالی غواړی ترڅو داسی سلسله مراتب ایجاد کړی،چی دغیر مستقیم واک لپاره لازمی وی او هم دهغه امپراتوری مشروع مفکوره پرمخ بوزی .خوبیا هم دقبایلو دبیلتون یا اشتقاق څخه پر قبیلی باندی دخپل کنترول دساتنی دیوی وسیلی په توگه استفاده کوی.... قبیله او امپراتوری دجوړښت له مخی یو دبل بشپړونکی دي. کټ مټ لکه قبیله او دولت چی د رغښت له مخی غیرمنطبق دي.»(۶۷مخ)

دکتاب په لمړی برخه کی چی «**دولت دجوړښت په حال کی**» عنوان لری، لیکوال د پولادی امیرعبدالرحمن خان په سیاسی تگلاره کی تم کیږی او لیکی چی :عبدالرحمن خان دخپلو وړاندنیو پرخلاف خپل زمان او دشاهی کهول نور غړی په ولایاتو کی دوالیانو په توگه نه ټاکل. دا تگلاره په اوږده موده کی بریمنه وه، لکه څنگه چی د ده ترمړینی وروسته د تخت لپاره منډی تړری نه وی.دشاهی کورنی غړی په کابل کی ساتل کیدل، څینی وختونه یی د حکومتی ځانگو څارنه کوله او هم به یی چاته سلا مشوری ورکولی. پاچا دوه مهم مشورتی هیئتونه لرل،یعنی عالی شورا چی دمعاصری کابینی مترادفه وه. او بل هم لویه جرگه وه چی د ده په تعبیر پارلمان وو.(۱۴۲مخ)

لیکوال دیوبل تاریخپوه گریگوریان له قوله زیاتوی چی :

«**امیر پخپلو اعلامیوکی پرخپلو اتباعو د(افغان) هویت تینگارکاوه.**» (۱۴۳مخ)

> دامیرعبدالرحمن خان هڅی دتجدد(عصری کولو) په غرض دهغه څه لپاره ډیره ښه توجیه کیدای سی چی فرانسویان یی(ملی کول) بولی، یعنی دیوی ملی اډانی دجوکات جوړول لکه پوځ، سرکونه،کانونه، اطلاعاتی اواداری شبکي. امیر په روسیه کی دخپلی دتجربی څخه دمادی پرمختگ سره مینه لرله او غوښته یی چی داسی زیربنا ایجاد کړی چی عصریت او تجدد ته ځای ورکړی او نور پرمختگ پسی گرندی کړی. امیر خپله هیله د افغانستان دعصری کولو په منظورپخپل خاطراتو کتاب کی داسی بیانوی: «**زه هیله او دعا کوم، چی که زه پخپل ژوندکی د اورگاډی دپټلیو دجوړول، دتلگراف اوبخار دماشینونو د راوړلو، دمعدنونو دکارولو، دبانکونو دخلاصولو، دبانکنوټونو د رایستلو دنړی له هری برخی څخه دگرځدویانو او پانگه والو د رابللو، په افغانستان کی دپوهنتونونو او نورو تعلیمی ځانگو د را ایستلو په سترارمان کی کامیاب نه سم، نو زما زامن او اخلاف به زما د زړه دا ارمانونه راپوره کړی، او افغانستان به هغسی کړی لکه زه چی یی ارمان جن یم**» (۱۴۷مخ)

مؤلف د ډیورند کرښی ته هم اشاره کوی او لیکی چی: دډیورند خط دپښتونستان دضمیمه کولو په اړه دافغانستان او دپاکستان ترمنځ دشخړی داساس په توگه راغلی دی.عبدالرحمن خان پخپل ژوندلیک کی په وار وارو سره وایی : چی ده هیڅکله نه وه گنلی،چی کومه پښتنی سیمه دی په همیشنی توگه برتانویانو ته ورپرینودل سی. آن پخپله سرمورډیورند دهندخارجه سکرتر چی همدا کرښه یی وایستله، دالحاق پیش بینی نه وه کړی.«ډیورند... دا تکل نه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

درلود چې دهند حکومتي پولي مخته ورتپل وهي، بلکې هغه يې صرف د سياسي کنټرول په خاطر ورپوري وهلي .»
(۱۴۶مخ)

ليکوال پخپل لسم ملپانه د ديورند دکرښې دپرونليک او دپښتونستان پرموضوع باندی مفصل او مستند دلايل وړاندی کوی.(۵۸۴ مخ)

په يوبل ځای کې د«**اميرامان الله خان سترسمون پال**» ترعنوان لاندی ،زما ډيره دتوجه وړ خبره داوه چې ليکونکی د۱۴۸مخ په ( پاورقی) کی د روسانو له قوله داميرحبيب الله خان قاتل "مصطفى صغير" دبرتانوی ايجنټ په نامه معرفي کوی، اواضافه کوی چې دا هغه تعبير وو، چې افغانی حکومت هم ومانه،صغير بالاخره په ترکيه کی ونيول سو او داتاترک په امراعدام سو. (۱۴۸ مخ) خو مؤلف د دی ادعا منبع او ماخذ نه رامعرفی کوی. داخبره ځکه نوی خبره ده چې غبار دامير حبيب الله قاتل «شجاع الدوله خان غوربندی» معرفي کوی، او فرهنگ د برتانوی هند دنماينده له خولی «سردار احمدشاه خان» د محمد ظاهرشاه خُسر معرفی کوی او بالاخره داکتر وطنمل «ارباب نظام الدين خان کامه وال» معرفي کوی. له دی ټولو مختلفو نظرونو څخه داڅرگنديږی چې د امير حبيب الله خان قاتل تراوسه په دقيقه توگه ندی معلوم.

ښاغلی مصداق د دی برخې په نتيجه کی وايي چې: د دی فصل ځيرنه پردريو موضوع گانومتمرکزه وه، چې هغه د دولت نازکی، دهغه عصری کول او پرهغه باندی دبهرنيو قوتونو داغيزی ښندل دی. دتخت پرسر ډغری او دپاچهانو له خوا دخپلودريځ،نو دساتلو هلی ځلی دلومړنی حقدار دقاعدی اويا هم دبلی موافقی وړ طريقی دنشته والی له امله وی.کيدای سی دغه سيال قوتونه دپلارگنۍ سلسلی د توپه بيز سيستم جوانب وگنو.خو بياهم د دی گډوډی وضعی دبدلون لپاره دپولادی امير او دهغه دمابعدو له خوا څه بريمنی هڅی سوی دی. په ۱۸۸۰ لسيزه کی دا احساس را پيدا سو چې دولت دټوپه بيز څخه يوموټی حالت ته ور پورته کيږی، او په دی بهير کی يو هيوادنی دولت ځينی جوړيونکی دی. افغانی حکومتونه د۱۸۸۰ لسيزی راهيسی زيار کښلی، چې مرکزی کنټرول پياوړی کړی او هم ولس دلوی جرگی او يا هم پارلمان په ذريعه که څه هم اختيارات به يی لږول، دهيواد په چاروکی ورشامل کړی.دسړکونو،ښونی روزنی او ټولنيزو رسنيو په پراختيا سره حکومتونو هڅه کړی، چې افغانی کلتور او هويت ښه ټينگ کړی. (۱۶۶-۱۶۷مخونه)

د دی کتاب په يوه برخه کی ويل کيږی:

"په اصل کی دافغانستان ځلورو وتلو پاچهانو هريوه لکه احمدشاه درانی(۱۷۴۷- ۱۷۷۳م)چې دقومونو سلطنت يی په امپراتوری سره بدل کړ، دوست محمدخان(۱۸۶۳-۱۸۳۳)چې شاهی کهول يی دسدوزو څخه بارکزو ته واړاوه او هيواد يی په نوم يوموټی کړ، عبدالرحمن خان(۱۸۸۰- ۱۹۰۱) چې په ښکاره توگه يی پرمرکزی واک باندی دقبايلو منگولی محدودکړی او امان الله خان(۱۹۱۹- ۱۹۲۹) چې دټولنيزو- سياسی او سپمايزو پراخو سمونونو هڅی يی وکړی، هر يوه په خپله خپله طريقه سره زياراېستلی چې يوه تل پاته مرکزی واک ايجاد کړی. دوی هر يوه قبايلی واقعيت هم منلی او هڅه يی کړی چې دهغه سره په روغه گډ ژوند وکړی. ... دافغانستان تيره دوه نيم سوه کلن تاريخ ښيی چې ...کله چې د دولت کمزوری احساس سوی نو قبايلوخپلی غوښتنی تری کړی دی، او بالعکس کله چې د قبايلوترمنځ توپير اونفاق پيښ سوی نو واکمنواو حکومتونو خپل شرايط تحميل کړی دی. ځکه نودولت او قبايلو دواړو زموږ په معاصرتاريخ کی ځانونه د دی بهير دحالت سره ښه عيار کړی دی.(۴۷۷مخ)

په دی کتاب کی ځوارلس ملپانه(ضميمه) هم ليدل کيږی چې زماپه نظر لمړی ملپانه يوه مهمه ملپانه ده. په دی ملپانه کی دافغانستان دتاريخ په باره هغه کتابونه چې په نونسم اوشلم پيړيو کی د اروپايي او امريکايي ليکوالو او تاريخ پوهانو له خوا ليکلی سوی دی،معرفی سوی دی. زه د اکار دهغه ځيرونکو اوافغانی ليکوالو دپاره چې دافغانستان د سياسی -اجتماعی او اقتصادی اوضاع سره علاقه لری،او غواړی کوم څه وليکی ډيرمهم رهنما گنم. داملپانه ديوی مهمی ليکنی پسی راغلی ده چې عنوان يی دی:( دامريکا او افغانستان دسپتمبر يولسمه )اود ۴۹۰مخ څخه تر۵۴۷ مخونوپوری رسيږی. تر دی وروسته دوهمه ملپانه (دپښتونولی ځانگی) ترعنوان لاندی يوه په زړه پوری مقاله ده چې لوستل يی خورا دلچسپه او گټوره ده. اوبالاخره لسمه ملپانه دپښتونستان مسئله او د ديورند خط د قرارداد دامضا کولولاملونو باندی ژور تحقيق ترسره سوی ده.

په لنډ ډول ويلای سم چې دا کتاب، له هره پلوه يو علمي - تحقيقی او تحليلی اثر دی ، چې د داسی کتاب ځای زموږ په کتابخانو کی تش وو. نو افغان ځوانانو او بهرنۍ ځيرونکو ته يو ډير گټور اثر دی. زه ټولو افغانانوته د دی کتاب مطالعه سپارښتنه کوم او هم گران ليکونکی ډاکټرصاحب مصداق ته خپل ژورتبريکات وړاندی کوم.

**پای**

---


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بداريد.